(c) ketabton.com: The Digital Library

ما له دې ګرمو شونډو نه ســـا تېځ
له وا که وزم بې پروا کېـــــــــــږم

جوالي ته

زړه مې راته وايي چې تپوس و کړم
څنګه دي دوند با رونه څنګه دي؟
ته چې کرې ورځ دا جوالونه وړې
څنګه دي، دملا دردونه څنګه دي
زړه چې دې له لوږې نه بېوا که شي
بيا د پيلاوو بويونه څنګه دي؟
شپې چې وږی پرېوزې په لانده غولي
دا دبد مرغۍ خوبونه څنګه دي
بيا چې دې ماشوم له تبې وژاړي
دا دغم او رنځ سازونه څنګه دي
ته چې يې دې ژوند ته مجبور کړی يې
بيا ددې نظام خوندونه څنګه دي

کا بل ۵ر۸ر۱۳۴۳

اسير انسان

زمان درياب دی، جهان ګرداب دی
مينه څپه ده ، هجر تالاب دی
د دې پيا وړو په های وهو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مسکو کې د ګور کي د کوڅې خوا کې
مایا کوفسکي درېد لی لکه غر
ملتونه دشورا ورته ولاړ دي
غوږولی ستر مسکو ورته وزر
خپل هدف ته هسي ځیر دی ته به وا یې
په ښکار نښتی دی دوږ.ي باز نظر
هومره دروند هومره ډاډه په ځای ولاړ دی
لکه و نیسي خوشحال خټک خیبر
چې کلونه څو تېر پږ.ي دی لو ییږ.ي
زمانه ورباندې نلري اثر
پخپل یون کې یې آسمان له ګروې ونیو
له تقدیر سره یې و وا هه ټکر
په حرمت مې مغزی هیچاته کوز نشو
مګر ده ته مې کوز پږ.ي مغرور سر
په عالم کې یې دسولې پیغام خور که
ورور ولي ته یې راوبا له بشر
مګر ته اې ستر انسا نه، اې شاعره
تابه ستایي څو شاعر شته څو اثر
څو دنیاوي ستا پیغام به ژوندی ساتي
ستا اشعار ، ستاسرودونه، ستا هنر

زما له زړه را اچتېږ.ي داچې وایم

